د افغانستان د زیارکښانو ټولنیز انجمن

۲۳ جون ۲۰۱۳

# انګریزان، هلمندي زیارکښان وژني او بیا د هغوی پر وینې ملنډې وهي

بریتانیا وایي چې د ۲۰۰۸ زیږدیز کال څخه د ۲۰۱۳ میلادي کال د می تر ۳۱ مې پورې یې څه باندې دری نیم میلیونه پونډه په هلمند کې زیانمنو خلکو ته ورکړي دي. د لندن د آی تي وي تلویزیون د راپور سره سم د بریتانیا دفاع وزیر اندریو رابتن ویلي دي چې دا پیسې د ۲۸۳۳ پیښو د تاوان ورکولو لپاره هلمندیانو ته ورکړل شوي دي. په دې پیښو کې وژنه، کور سوځونه، کور ویجاړونه، درمند سوځونه، ټپي کیدنه او داسي نور جنایتونه شامل دي.

په داسي حال کې چې بریتانیا د افغانستان په ښکیلاکي جګړه کې تر دمګړی ۳۷ میلیارده پونډه لګولي دي، په بی شرمی اعلان کوي چې د زیانمنو خلکو لپاره یې تاوان ورکړی دی. د دې جنایتکاره دولت د جنایتونو او خیانتونو کچه د ښکیلاکي او لوټماري جګړې د لګښتونو له مخې ښه ارزولی شوو. د بریتانیا سرتیري د امریکا او د ناټو هیوادونو د نورو سرتیرو په شان بیرحمه، ظالمه او وینه تویونکي سرتیري دي چې له هیڅ ډول جنایت او ستم څخه ډډه نکوي.

د بریتانیا دولت له یوې خوا بیوزله هلمندیان وژني، کورونه یې ویجاړوي، درمندونه یې سوځي، په بمباریو کې ټپی کوي، ځوروي او شکنجه کوي او له دې ټولو وروسته د هغوی پر دردونو، کړاونو او رنځونو ملنډې وهي او داسي فکر کوي چې ګني د ولس درد او زخم، ټپ او رنځ، وینه او غم کولای شي په پونډو وپیري.

دا درسته ده چې د افغانستان خلک او په تیره بیا هلمندیان په بیوزلی او تنګلاسی کې ژوند کوي، خو هیڅوک نشي کولای د هغوی پر رنځونو او دردونو ملنډې ووهي، د هغوی دردونه او رنځونه وپیري، نه امریکا نه بریتانیا او نه هم نور ناټویي هیوادونه. درد، درد دی او هغه وخت رغیدلی شي چې چا چې درد رسولی په ګونډو کړای شي.

زمونږ وطن د بهرنیانو لخوا بمباریږي، هلمندیان د دې بمباریو د قربانی یوه برخه او له بده مرغه غمجنه برخه ده. هلمندي بیوزله ولس څه باندې دولس کاله کیږي چې د بهرنیو ستمګرو سرتیرو تر موزو لاندې ځپل کیږي، ماشوم، میرمن، خور، ورور، پلار، اکا، ماما، ترور او لمسي یې وژل کیږي، ټپي کیږي او ختینه جونګړه یې سوځول کیږي، د دهقان درمند ته یې اور اچول کیږي او د ډاکټر او انجنیر سر یې پرې کیږي او له دې جنایتونو سره ستمګران فکر

کوي چې د څو پونډو يا ډالرو په ورکولو سره به د دردمنو ولسونو له حساب څخه وژغورل شي، خو داسې يوځه امکان نلري.

کله چې يوازې انګريزان په هلمند کې د ۲۸۳۳ پيښو مسووليت په پنځو کالو کې په غاړه اخلي، نو په دغه ولايت کې ميشت امريکايي او ډنمارکي سرتيرو به څومره جنايتونه تر سره کړي وي. که د انګريزانو ۲۸۳۳ له جنايت ډکې پيښې په پنځو کالو تقسيم کړو نو هر کال يې په دغه ولايت کې څه باندې ۵۶۶ جنايتونه تر سره کړي دي، يعنې هره ورځ څه باندې يو نيم جنايت.

دا په خپله ښکاره کوي چې افغانستان په تيرو دولسو کالو کې د «دموکراسی» په ځای، د وژنې او جنايتونو وطن ګرځيدلی ، هغه وطن چې په کې زيارکښان وژل کيږي او بيا يې وينه په پونډو او ډالرو تلل کيږي.

د ۱۳۹۲ د سرطان لومړۍ